# هغه څه پريږده چې تا شکمنوي، او هغه وکړه چې تا نه شکمنوي، ځکه چې رښتيا ډاډ او دروغ شک دی

له ابو الحوراء السعدي څخه روايت دی وايي چې: ما حسن بن علي رضی الله عنهما ته وويل: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دې څه زده کړي دي؟ هغه وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا زده کړي دي چې: "هغه څه پريږده چې تا شکمنوي، او هغه وکړه چې تا نه شکمنوي، ځکه چې رښتيا ډاډ او دروغ شک دی".

[صحيح دی] [الترمذي، النسائي او أحمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو ويناوو او عملونو په پريښودلو امر کړی چې تا په شک کې اچوي چې آيا له دې څخه به منع شوي وي که نه، آيا حرام به وي که حلال، نو هغه څه ته ترې واوړه چې تا په شک کې نه اچوي او ته يې له ښه والي او حلالوالي څخه ډاډه يې، داسې څه چې زړه ورته ډاډ او سکون پيدا کوي او په څه کې چې شک وي نو انسان پکې زړه نازړه او د اضطراب په حالت کې وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4564